# الانبياء

**مکی سورة دی ۱۱۲ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ مُّعۡرِضُونَ ١

**د خلکو (د اعمالو) د حساب کتاب وخت رانږدې شوی خو دوی ترې (لا اوس هم)په غفلت کې پراته دی( د قیامت مسلم حقیقت نه منی او د الله تعالی له اطاعت نه) مخ اړوی.**

مَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّن رَّبِّهِم مُّحۡدَثٍ إِلَّا ٱسۡتَمَعُوهُ وَهُمۡ
يَلۡعَبُونَ ٢

**هر نوی پند او نصیحت چې د دوی د رب له لوری دوی ته راځی په (بې پروایی سره یې) اوری خو په لوبو او ساعت تیری سره وربانډې ملنډې وهی.**

لَاهِيَةٗ قُلُوبُهُمۡۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ
مِّثۡلُكُمۡۖ أَفَتَأۡتُونَ ٱلسِّحۡرَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ٣

**زړونه یې( په دنیوی چارو، ساعت تیری او ګناهونو کې) نښتی او ظالمان خو لا په خپلمنځی پټو مشورو کې وایی چې دا پیغمبر خو ستاسو په شان یو بشر دی نو آیا تاسو په غړیدلو سترګو د سحر او جادو پیروی کوی؟**

قَالَ رَبِّي يَعۡلَمُ ٱلۡقَوۡلَ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلۡعَلِيمُ ٤

**(پیغمبر) هغوی ته وویل: (خپلې مشورې نشی پټولی ځکه) زما رب په آسمان او ځمکه کې د هرې خبرې اوریدونکی او وربانډې پوه ذات دی.**

بَلْ قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍۭ بَلِ ٱفْتَرَىٰهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ فَلْيَأْتِنَا بِـَٔايَةٍ كَمَآ أُرْسِلَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٥﴾

**بلکه( مشرکان) وایی: قرآن په ګډو وډو خوبونو کې د لیدل شویو کیسو مجموعه ده. دوی کله وایی: دې( پیغمبر) قرآن له ځانه جوړ کړی، کله وایی: دی شاعر دی( او که په ربښتیا د الله رسول وی نو) مونږ ته دې داسې معجزه راوړی لکه پخوانی پیغمبران چې ورسره رااستول شوی وو.**

مَآ ءَامَنَتْ قَبْلَهُم مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَآ ۖ أَفَهُمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾

**له دوی نه وړاندې هم د هیڅ ښار اوسیدونکو د تباهی تر دمه( د فرمایشی معجزاتو په لیدلو) ایمان نه دی راوړی، نو آیا دوی به ایمان راوړی؟**

وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِمْ ۖ فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٧﴾

**او( ای پیغمبره!) مونږ ستا نه وړاندې هم، یوازې انسانی شخصیتونه( د پیغمبرانو په حیث د خلکو د لارښوونې لپاره) لیږلی چې مونږ ورته وحې کوله. که تاسو په دغه حقیقت نه پوهیږئ نو د( آسمانی کتابونو) له عالمانو او تاریخ پوهانو څخه پوښتنه وکړئ( پوه به شئ چې پخوانی پیغمبران ټول انسانان وو، نه ملائک).**

وَمَا جَعَلْنَٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُوا۟ خَٰلِدِينَ ﴿٨﴾

**مونږ هغوی ته داسې بدنونه، نه وو، ورکړی چې خوراک به نه کوی( بلکه ټولو خوراک څښاک کاوه) او ابدی او تلپاتې ژوند یې هم نه درلود.**

ثُمَّ صَدَقْنَٰهُمُ ٱلْوَعْدَ فَأَنجَيْنَٰهُمْ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٩﴾

**بیا مو له دوی سره په کړې وعده وفا وکړه، دوی او نور هغه کسان مو چې زمونږ خوښ وو، وژغورل او( د دوی لجوج دښمنان او له حق نه) تیری کوونکی مو له منځه یوړل.**

لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠﴾

بې له شکه، مونږ تاسو ته داسې کتاب نازل کړی چې ستاسو لپاره پند او نصیحت( او د عزت او وقار) وسیله ده، نو تاسو ولې په دغه حقیقت فکر نه کوئ؟

وَكَمۡ قَصَمۡنَا مِن قَرۡيَةٖ كَانَتۡ ظَالِمَةٗ وَأَنشَأۡنَا بَعۡدَهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ﴿١١﴾

او مونږ ډیر داسی ښارونه چې( اوسیدونکی یې) ظالمان وو، تباه کړی او وروسته مو نور خلک هلته ځای په ځای کړی دی.

فَلَمَّآ أَحَسُّواْ بَأۡسَنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَرۡكُضُونَ ﴿١٢﴾

نو کله چې یې زمونږ عذاب احساس کړ، ناڅاپه، په تیښته شول.

لَا تَرۡكُضُواْ وَٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰ مَآ أُتۡرِفۡتُمۡ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡـَٔلُونَ ﴿١٣﴾

( د ملنډو او استهزا په توګه ورباندې غږ شو چې) مه تښتئ، او بیرته هغو سیمو او کورونو ته ستانه شئ چې تاسو پکې سوکاله او په ناز او غرور اوسیدئ، ترڅو هلته( مو درنه خدمتګاران او هواخواهان د مرستې او مهربانۍ) غوښتنې وکړی.

قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿١٤﴾

( د عذاب په لیدلو یې فریادونه پورته شول) ویل یې : افسوس دی په مونږ چې څومره ظالمان وو؟

فَمَا زَالَت تِّلۡكَ دَعۡوَىٰهُمۡ حَتَّىٰ جَعَلۡنَٰهُمۡ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴿١٥﴾

د دوی همدا چیغې سورې او فریادونه لا روان وو چې مونږ یې جرړې وویستې او د ریبل شوی فصل( او سوزیدلو لرګیو د ایرو په شان مو) خاموشه کړل.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿١٦﴾

او آسمانونه او ځمکه( کائنات) او د هغو په منځ کې، شته موجودات او مخلوقات مو، د لوبو او ساعت تیرۍ لپاره نه دی پیدا کړی.

لَوۡ أَرَدۡنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهۡوٗا لَّٱتَّخَذۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٧﴾

كه( بالفرض) مونږ لوبو، او ساعت تيرى ته اراده درلودى، نو بيا به مو د ځان لپاره د لوبو او ساعت تيرى لوازم جوړ كړى وى، خو كه مونږ يې كوونكى واى( نو بيا د دې سترو كائناتو پيدا كولو، د ذى روحو او ذى شعورو انسانانو تخليق، بيا ورته د مسؤليتونو سپارلو او د هغو په مقابل كې ورته د مكافات او مجازات وركولو نظام ته هيڅ اړتيا نه وه).

بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾

( خو حقيقت دا دى چې الهى نظام يو مدبرانه او په حق ولاړ نظام دى) او مونږ د حق( د قواو په وسيله) باطل ټكوو او له منځه يې وړو، او بيشكه چې باطل له منځه تلونكى دى. حيف په تاسو چې( د خالق او مخلوقاتو لپاره غلط او نادوده) تعريفات وړاندې كوى.

وَلَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ عِندَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴿١٩﴾

او د آسمانونو او ځمكې ټول مخلوقات او شتمنى د الله تعالى ملكيت دى او د هغه په حضور كې ولاړ( پرښتې) نه د هغه له بندگى او عبادت نه سر غړوى او نه پكې سترى كيږى.

يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴿٢٠﴾

(بلكه) شپه ورځ په نه ستومانه كيدونكى توگه د الله تعالى ثنا او تسبيح وايى.

أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً مِّنَ الْأَرْضِ هُمْ يُنشِرُونَ ﴿٢١﴾

آيا( كافرانو) له ځمكنيو شيانو څخه خدايان جوړ كړى( او فكر كوى) چې هغوى مړى راژوندى كولى شى؟( هيڅكله هم هغوى دا قدرت نه لرى، بلكه يوازينى ذات الله تعالى دى چې مړى راژوندى كولى شى).

لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾

كه په آسمان او ځمكه كې له الله تعالى نه غير، بل خداى وى نو بيشكه چې( په ځمكه او آسمان) دواړو كې به د فساد او گډوډۍ اور بل وى. نو پاك دى د عرش رب الله تعالى له ټولو هغو( ناروا) توصيفونو څخه چې كافران يې ورته منسوبوى.

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴿٢٣﴾

( هغه مقتدر ذات چې) د خپل هيڅ حکم او اقدام له امله مواخذه کيدی نشی، خو بندگان يې د خپلو کړو وړو له امله الهی محکمې ته مسئول او ځواب ويونکی دی.

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً ۖ قُلْ هَاتُواْ بُرْهَـٰنَكُمْ ۖ هَـٰذَا ذِكْرُ مَن مَّعِىَ

وَذِكْرُ مَن قَبْلِى ۗ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْحَقَّ ۖ فَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٤﴾

آيا( کافران او مشرکان د عبادت لپاره) د الله تعالی په ځای، نور باطل خدايان غوره کوی؟ ( ای پيغمبره!) ورته ووايه( د خپل شرک او کفر د حقانيت لپاره خو) کوم دليل راوړاندې کړی، دا قرآن چې زما د امت لپاره نصيحت دی او نور آسمانی کتابونه هم چې د پخوانيو امتونو لپاره پکې نصيحتونه وو ( ټول د الله تعالی د توحيد د اثبات منابع دی ) خو زياتره مشرکان حق نه پيژنی او له همدې امله ترې مخ اړوی.

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠

فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾

او ستا نه وړاندې مو هر پيغمبر له دې وحې سره لیږلی چې ( ای بشری پرګنو!) له ما نه پرته بل خدای نشته، نو تاسو يوازې زما عبادت وکړی.

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَلَدًا ۗ سُبْحَـٰنَهُۥ ۚ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ ﴿٢٦﴾

او ( مشرکين) وايي: رحمان (خدای) خو زوی لری( ځينې عرب قبايل پرښتو ته د الله د لونړو،عيسويان عيسی ته او يهوديان عزير ته د الله د زامنو خطاب کوی، خو) الله تعالی له دغو صفاتو څخه کاملاً پاک او مبری دی، بلکه( پرښتې دی که عيسی دی که عزير) ټول د الله تعالی مکرم او معزز بندگان دی.

لَا يَسْبِقُونَهُۥ بِٱلْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِۦ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾

( او دومره مؤدب او فرمانبردار دی چې) هيڅکله له الله تعالی نه وړاندې خبره نه کوی بلکه يوازې الهی احکام تطبيقوی.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ

وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ مُشْفِقُونَ ﴿٢٨﴾

**الله تعالی د هغوی په ظاهری او باطنی حالاتو ښه خبر دی او هغوی یوازې د هغو( موحدو مؤمنانو) شفاعت کوی چې الله تعالی تری راضی دی او هغوی د الله تعالی( د عذاب) له ویرې لړزېږی.**

۞ وَمَن يَقُلۡ مِنۡهُمۡ إِنِّيٓ إِلَٰهٞ مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجۡزِيهِ جَهَنَّمَۚ
كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾

**او ( که بالفرض) له هغوی څخه کوم یو تن د خپل الوهیت او خدایۍ ادعا وکړی، د دوزخ جزا به ورکړو، بلکه هر ظالم او تیری کوونکی په دغه ډول سزا محکوموو.**

أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا
فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٠﴾

**آیا کافرانو په دې حقیقت فکر نه دی کړی چې آسمانونه او ځمکه سره نښتې،(ګډ وډ او مخلوط) وو، خو مونږ سره جلا جلا کړل( او په بیلابیلو طبقاتو مو سره وویشل) او هر ساکښ مو له اوبو څخه پیدا کړی( خو هغه مخلوقات چې اوبه یې په تخلیق کې ونډه نه لری مستثنی دی) نو ولې ایمان نه راوړی.**

وَجَعَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمۡ وَجَعَلۡنَا فِيهَا فِجَاجٗا
سُبُلٗا لَّعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ﴿٣١﴾

**او په ځمکه کې مو ټینګ او مستحکم غرونه ټک وهل چې له لرزیدو څخه وژغورل شی. او پراخې لیارې مو پکې جوړې کړې ترڅو ورباندې( بې تکلیفه) خپل منزل مقصود ته ورسیږی.**

وَجَعَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ سَقۡفٗا مَّحۡفُوظٗاۖ وَهُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهَا مُعۡرِضُونَ ﴿٣٢﴾

**او آسمان مو د یوه محفوظ چت په حیث جوړ کړ خو دوی بیا هم د هغه له ټولو نښانو څخه( چې د الله تعالی د توحید، ربوبیت او قدرت) شاهدی ورکوی، مخ اړوی.**

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ فِي فَلَكٖ
يَسۡبَحُونَ ﴿٣٣﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړی چې هر یو پخپل مدار کې لامبو وهی.**

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَ ۖ أَفَإِي۟ن مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴿٣٤﴾

( ای پیغمبره!) ستا نه وړاندې مو هم هیڅ بشر ته ابدی ژوند نه دی ورکړی نو آیا که ته وفات شې، دوی به تل تر تله ژوندی وی؟

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا
تُرْجَعُونَ ﴿٣٥﴾

هر ساکښ د مرګ د خوند څکونکی دی( او څنګه چې لازمه وینو) تاسو د خیر او شر په بیلابیلو پیښو( تنګلاسی، شتمنی، روغتیا، ناروغی، امنیت او مصببت) ازمایو او بالاخره تاسو ټول زما حضور ته راګرځیدونکی یاست.

وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا
ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ هُمْ
كَٰفِرُونَ ﴿٣٦﴾

او (ای پیغمبره) کافران چې تا ووینی، ملنډې دربانديې وهی( او وایی) آیا همدا سړی دی چې ستاسو خدایان( د بې تاثیره او بې اختیاره موجوداتو په نوم) یادوی. په داسې حال کې چې دغه کافران د رحمان( خدای) له ذکر( توحید او قرآن) نه منکر دی.

خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُو۟رِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾

انسان تلوار کوونکی مخلوق دی( یعنې په غرور او تکبر سره په بیړه د الهی عذاب غوښتنه کوی، ای کافرانو!) بیړه مه کوی، ډیر زر به درته د خپل قدرت نښانې( او موعود عذاب) دروښایم.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾

(پیغمبر او مؤمنانو ته) وایی: که رښتینی یاست نو( د عذاب د راتلو) ټاکلې وعده وښایاست.

لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا
عَن ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٣٩﴾

**که کافران له هغه حالت نه خبر شی چې نه به له خپلو مخونو او څټونو څخه د اور لمبې منع کولی شی او نه به ورسره مرسته وشی( نو هیڅکله به په تلوار د عذاب غوښتنه و نه کړی).**

بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ
يُنظَرُونَ ﴿٤٠﴾

**بلکه عذاب به ورباندې ناڅاپی راشی، دوی به ورته داسې حیران پاتې شی چې نه به یې د مخنیوی وس او طاقت ولری او نه به ورته د عذاب د ځنډیدو مهلت ورکړی شی.**

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم مَّا
كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤١﴾

**او بیشکه چې ستا نه وړاندې هم په پیغمبرانو باندې ملنډې وهل شوی خو بیا مسخره کوونکی په هماغه عذاب اخته شوی چې پخپله به یې ورباندې ټوکې او مسخرې کولې.**

قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحْمَٰنِ ۗ بَلْ هُمْ عَن
ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٢﴾

**( ای پیغمبره!) له دوی وپوښته چې څوک مو شپه ورځ، د رحمان( خدای له عذابه) ساتی؟( بلکه هیڅوک نشته) خو دوی( بیا هم) د خپل رب له نصیحت ( او احکامو) نه مخ اړوی.**

أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا ۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ
أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ ﴿٤٣﴾

**آیا زمونږ په مقابل کې داسې کوم خدایان لری چې دوی زمونږ له عذابه وژغورلی شی؟( دغه تش په نوم خدایان خو) نه له خپلو ځانونو سره مرسته کولی شی او نه ورسره زمونږ خواخوږی او همدردی ملګرې ده.**

بَلۡ مَتَّعۡنَا هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡعُمُرُۗ أَفَلَا

يَرَوۡنَ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَآۚ أَفَهُمُ

ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾

**بلکه په دغو( کافرانو) او د دوی په پلرونو مو( هر ډول) نعمتونه راورولی وو، تر هغه چې ژوند وربانديٖ اوږد شو( او گومان يې راغی چې دغه نعمتونه او اوږد ژوند به يې تلپاتې وی) آيا په دې نه پوهيږی چې مونږ( د اسلامی قواو په پرمختگ او فتوحاتو او د کفری حکومتونو په راپرځولو سره) په دوی باندې له هرې خوا ځمکه راتنگوو او هيڅکله به هم د برلاسیٖ مخ و نه وينی.**

قُلۡ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلۡوَحۡيِۚ وَلَا يَسۡمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا

يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

**( ای پيغمبره) خلکو ته ووايه: زه يوازې د وحې په وسيله تاسو تنبيه کوم، خو( که د زړه  او ضمير) ړانده هر څو تنبيه کړې بياهم د بلنې غږ نه اوری.**

وَلَئِن مَّسَّتۡهُمۡ نَفۡحَةٞ مِّنۡ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا

كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾

**او که دوی ته ستا د رب د عذاب يو بڅری هم ور ورسی( نو بيا سر تندی وهی) چې های بده بخته مونږ څومره ظالمان وو.**

وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن

كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا

حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾

**او د قيامت په ورځ به د انصاف او عدالت تلې کيږدو( او د اعمالو د تللو په وخت کې به) په هيچا ظلم او زياتی ونشی، او که د ذرې په اندازه( نيک او بد عمل) موجود وی( نو وبه تلل شی) او مونږ د حساب  کتاب  لپاره  پوره  کفايت لرو.**

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلۡفُرۡقَانَ وَضِيَآءٗ وَذِكۡرٗا لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾

او بیشکه چې مونږ موسی او هارون ته د حق او باطل ترمنځ پریکړه کوونکی( او تفکیک کوونکی کتاب) فرقان ورکړ، چې روښانه نور او د پرهیزګارانو لپاره د پند او عبرت وسیله وه.

ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشۡفِقُونَ ﴿٤٩﴾

( هغه پرهیزګاران) چې په غایبانه توګه له خپل رب نه ډارېږی او د قیامت( د حساب کتاب) ویره او فکر هم ورسره دی.

وَهَٰذَا ذِكۡرٞ مُّبَارَكٌ أَنزَلۡنَٰهُۚ أَفَأَنتُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾

او زمونږ دا نازل کړی کتاب( مبارک قرآن) یو ګټور ذکر او پند دی، نو تاسو ترې ولې انکار کوئ؟

۞ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

او ابراهیم ته مو( له نبوت نه لا وړاندې، په عقایدو او اعمالو کې) رشد او استعداد ورکړی او د ده ( باطنی استعداد او قابلیت) مونږ ته ډېر ښه معلوم و.

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ لَهَا عَٰكِفُونَ ﴿٥٢﴾

کله چې یې خپل پلار او قوم ته وویل: د دغو مجسمو( حقیقت او کمال) څه دی چې تاسو یې عبادت کوئ.

قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ﴿٥٣﴾

هغوی وویل: مونږ خپل پلرونه، همدغو بتانو ته په عبادت کولو لیدلی( او مونږ هم د هغوی د دود دستور پیروی کوو).

قَالَ لَقَدۡ كُنتُمۡ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٥٤﴾

ابراهیم وویل: یقیناً چې تاسو( لیاره ورکه کړې) او پلرونه مو هم د څرګندې ګمراهۍ په کندو سر وو.

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا بِٱلۡحَقِّ أَمۡ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ﴿٥٥﴾

هغوی وویل: دا وایه چې کومه حقه خبره دې راوړې، که توکې راسره کوې.

قَالَ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم
مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٦﴾

ابراهیم ورته وویل:( ټوکي نه دی) بلکه ستاسو حقیقی رب، هماغه د آسمانونو او ځمکي رب دی چې ټول کائنات يي پیدا کړی، او زه په دغه( حقیقت) ګواه یم.

وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم بَعۡدَ أَن تُوَلُّواْ مُدۡبِرِينَ ﴿٥٧﴾

او( په لږ څه خفیف آواز يي وويل:)په الله قسم، همدا چې تاسو له( بتخانې) لاړ شی، زه به مو د بتانو( د نابودۍ) لپاره لاس په کار شم.

فَجَعَلَهُمۡ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمۡ لَعَلَّهُمۡ إِلَيۡهِ يَرۡجِعُونَ ﴿٥٨﴾

نو( د مجاورانو له تګ سره سم يي) ټول بتان ټوټه ټوټه کړل، خو لوی بت يي روغ رمټ پرېښود، ترڅو ورته پرستش کوونکی( د شکایت لپاره) راوګرځی( او د بتانو بې وسی ثابته شی).

قَالُواْ مَن فَعَلَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾

( کله چې خلک بت خانې ته راغلل، په حیرانی يي) وويل: کوم ظالم، زمونږ خدایان په دې حال کړی دی؟

قَالُواْ سَمِعۡنَا فَتًى يَذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ ﴿٦٠﴾

(نورو) وويل: له يوه ځوان نه مو چې ابراهیم نومیږی، واوریدل( چې زمونږ بتان يي په بده ژبه رټل او بې تاثیره او بې اختیاره شیان يي ګڼل).

قَالُواْ فَأۡتُواْ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعۡيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُونَ ﴿٦١﴾

( نمرود او نورو چارواکو ) وويل: عمومی غونډې ته يي حاضر کړی چې خلک يي( په جرم) ګواهی ورکړی( او سزا يي هم په سترګو ووينی).

قَالُوٓاْ ءَأَنتَ فَعَلۡتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ﴿٦٢﴾

( کله چې يي راوغوښت ورته يي) وويل: ای ابراهیمه؟ همدا تا زمونږ خدایان په دې حال کړل؟

قَالَ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾

(ابراهیم) وویل: بلکه دا کار د مشر بت دی، نو که هغوی خبرې کوی، پوښتنه ترې وکړی( چې چا ټوټه ټوټه کړی دی؟)

فَرَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾

ټولو پخپلو ګریوانونو کې سرونه ښکته کړل( او له غور او فکر نه وروسته یې یو بل ته ) وویل: ظالمان خو تاسو پخپله یاست( چې د داسې بې ځانه او جامدو بتانوعبادت کوئ چې نه خپله دفاع کولی شی ، نه یې د ابراهیم د تبرګی مخه ونیوله او نه ورته اوس کومه سزا ورکولی شی ).

ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾

نو سرټيټی او شرمیدلی شول( خو بیا یې هم په جاهلانه او لجوجانه توګه ابراهیم ته وویل:) ته خو، ښه پوهیږې چې دوی خبرې نه کوی( نو زمونږ د پوښتنو ځواب به څنګه راکړی) .

قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾

ابراهیم وویل:( چې دا حقیقت منئ) نو ولې د الله تعالی په ځای، د داسې شیانو عبادت کوئ چې نه درته کومه ګټه رسوی او نه کوم ضرر( درنه دفع کوی)؟

أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

افسوس ( او هلاکت دی) په تاسو او هغو شیانو چې تاسو یې د الله تعالی په ځای، عبادت کوئ. آیا له سلیم عقل نه کار نه اخلئ( او د خپل عمل په قباحت نه پوهیږئ؟)

قَالُوا۟ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓا۟ ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾

(کله چې نمرودی چارواکی له استدلال نه عاجز شول، نو له خپلمنځی مشورې نه وروسته یې) وویل: که غواړئ د خپلو خدایانو ملاتړ وکړئ نو ابراهیم وسوزوئ.

قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾

( نو هغه يي اور ته وغورزاوه) خو مونږ اور ته ( تکوينی) امر وکړ چې د ابراهيم لپاره( په مناسبه او معتدله اندازه) يخ او له سلامتیٰ ډک شه.

وَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَخۡسَرِينَ ﴿٧٠﴾

او د هغه د سوزولو لپاره يې يوه لويه دسيسه او پلان جوړ کړ( چې مونږ ورته تس نس او خنثی کړ) او هغوی مو له زيان،( ناکامی او ذلت) سره مخامخ کړل.

وَنَجَّيۡنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا لِلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾

او ابراهيم او لوط مو( د شرک او فساد له ټاټوبی عراق نه) روغ رمټ وايستل او له برکتونو ډکې ځمکې( شام) ته مو ورسول.

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ نَافِلَةٗۖ وَكُلّٗا جَعَلۡنَا صَٰلِحِينَ ﴿٧٢﴾

او هغه ته مو( ځوی) اسحاق او برسيره په هغه، (لمسی) يعقوب ورکړل او دغه ټول(انبياء) مو د نيکو او صالحو شخصيتونو په حيث غوره کړل.

وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِمۡ فِعۡلَ
ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِۖ وَكَانُواْ لَنَا
عَٰبِدِينَ ﴿٧٣﴾

او هغوی مو د لارښوونکو او امامانو په حيث وټاکل چې زمونږ په امر به يې( خلکو ته ) لارښوونه کوله، او د وحې په وسيله مو ورته د نيکو کارونو، د لمانځه او زکات د نظام د قيام سپارښتنه وکړه او هغوی يوازې زمونږ عبادت کوونکی وو.

وَلُوطًا ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗا وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَت
تَّعۡمَلُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ فَٰسِقِينَ ﴿٧٤﴾

او لوط( راياد کړه) چې نبوت او پوهه مو ورکړې وه، او له هغه ښار( سدوم) څخه مو ورته نجات ورکړ چې اوسيدونکی يې په ناوړو اعمالو روږدی، او بد عمله او نافرمانه وو.

وَأَدْخَلْنَٰهُ فِي رَحْمَتِنَآۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

او( په لوط مو) د خپل رحمت او مهرباني سيوري غوړولی و، بيشکه چې هغه يو نيک او صالح شخصيت و.

وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾

او نوح( رایاد کړه) چې له( دغو انبياوو نه) پخوا يې له خپل قوم نه د نجات لپاره( خپل رب ته) غږ کړ:( انی مغلوب فانتصر) او ( رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارا) نو دعا يې ومنل شوه او دی مو له کورنۍ ( او نورو ملګرو او موجوداتو ) سره روغ رمټ وژغوره.

وَنَصَرْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾

او د هغې ډلې په مقابل کې مو ورسره مرسته وکړه چې زمونږ آيتونه يې دروغ ګڼل. دا يوه مفسده ډله وه چې ټول مو په توپانی سيلاب لاهو کړل.

وَدَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي ٱلْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ ٱلْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَٰهِدِينَ ﴿٧٨﴾

او (پلار او زوی) داود او سليمان رایاد کړه، چې د هغه کښت په باب يې، چې پردۍ رمه پکې څرېدلې وه، قضاوت کاوه،او مونږ يې قضاوت او فيصله څارله.

فَفَهَّمْنَٰهَا سُلَيْمَٰنَۚ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًاۚ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿٧٩﴾

نو سليمان ته مو د (عادلانه) قضاوت لارښوونه وکړه، او دواړو( پلار او زوی) ته مو نبوت او( د قضاياو د عادلانه حل و فصل قوت او) پوهه ورکړه، او غرونه او مارغان مو ورته داسې تابع کړل چې تل به يې له داود سره الهی حمد او تسبيحات( په خوږ او زړه راکښونکی آواز) زمزمه کول، او( د تيرو او مارغانو تهليل او تسبيح بايد تاسو ته د تعجب او حيرانتيا وړ نه وی، ځکه) په حقيقت کې همدا مونږ يو چې هغو ته مو دغه قوت ورکړی و.

وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ۖ فَهَلْ
أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴿٨٠﴾

او (ستاسو د خیر ښیګڼې لپاره مو) هغه ته د زغرې جوړولو( او د اوسپنې ویلې کولو) صنعت ورزده کړ، تر څو
وربانده‌ې تاسو، په جګړو کې( د دښمن له حملو نه) ځانونه وساتی. نو آیا تاسو د دغو( الهی پیرزوینو) شکر اداء کړی
دی؟

وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۚ
وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ عَٰلِمِينَ ﴿٨١﴾

او د سلیمان لپاره مو، توند باد تابع کړی و، چې د ده په امر به الوت( او د هغه تخت به یې چې ټول حکومتی لوړ پوړی
چارواکی به وربانده‌ې ناست ول، له یمن نه) له برکتونو ډکې ځمکې( شام) ته رساوه، او مونږ په ټولو چارو ډیر ښه
پوهیږو( چې چاته څه ډول امتیاز ورکړو، او هوا او نور طبیعی عناصر، په څه ډول د انسان د ښیګڼې لپاره تابع کړو) .

وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ
ذَٰلِكَ ۖ وَكُنَّا لَهُمْ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾

او هغه شیطانان( سرکښ پیریان) مو هم ورته تابع کړل چې د هغه په امر به یې( په بحر کې) غوټې وهلې( او مرغلرې
او جواهرات به یې د بحر له تل نه راایستل) او نور ډول ډول( درانه کارونه لکه د ودانیو او لویو مسی دیګونو جوړول )
ورته سپارل شوی وو، او مونږ یې ساتنه او مراقبت کاوه( چې د سلیمان علیه السلام له امر نه یې سرغړونه، نه شوه
کولی او نه یې چاته ضرر رسولی شو).

۞ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾

او ایوب( رایاد کړئ) چې خپل رب ته یې غږ کړ، رنځ او مصیبت مې زوروی او ته تر ټولو زیات مهربان ذات یې.

فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم
مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾

نو مونږ یې دعا ومنله او ټول رنځ او تکلیف مو ترې پورته کړ، او (د مړو شویو اولادونو په ځای مو ورته لا نور) زیات اولادونه ورکړل، چې زمونږ له خوا رحمت او د ټولو عبادت کوونکو( صبر کوونکو) لپاره د پند او عبرت درس و.

وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٨٥

او اسماعیل، ادریس او ذوالکفل (رایاد کړئ) چې ټول صبر کوونکی وو.

وَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ فِي رَحۡمَتِنَآۖ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٦

او پخپل رحمت کې مو شامل کړل، ځکه هغوی نیکان او صالحان وو.

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي
ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٧

او د کب څښتن( حضرت یونس رایاد کړه) چې په قهر او غصه( له خپل قوم نه لاړ) او ګومان یې وکړ چې مونږ به وربانديې ژوند تنګ نه کړو، نو( د اوبو په تل او د کب د نس) په تیارو کی یې خپل رب ته غږ کړ چې: ستا نه غیر، بل رب نشته، ته له هر عیب او نقص نه پاک یې،او( اعتراف کوم چې) ما پخپل ځان ظلم کړی.

فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨

نو مونږ یې د استغاثې غږ واورید او له غم نه مو وژغوره، او په همدې توګه مونږ ټولو مؤمنانو ته( له مصیبتونو څخه) نجات ورکوو.

وَزَكَرِيَّآ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ
ٱلۡوَٰرِثِينَ ٨٩

او زکریا(رایاد کړه) چې خپل رب ته يې( د مرستې لپاره) غږ کړ: ای ربه! یوازې( او بې اولاده) مې مه پرېږده( خو که لا
وارثه پاتې هم شم پروا مې نشته ځکه د کائناتو اصلي مالک او) وارث،پخپله ستا ذات دی( چې د خپل دین د خدمت لپاره
به نور صالح کسان غوره کړې).

فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ۚ
إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا
وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾

نو دعا مو ورته قبوله کړه او یحیی مو ورباندې ولوراوه او میرمنه مو ورته( د اولاد راوړلو لپاره) مستعده کړه. دغو(
ټولو پیغمبرانو) په خیریه چارو کې هڅې کولې او د امید او ویرې په حال کې یې مونږ ته دعاګانې کولې، او تل زمونږ
په وړاندې تابعداران وو.

وَٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا
وَجَعَلْنَٰهَا وَٱبْنَهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩١﴾

او هغه بی بی( مریم رایاده کړه) چې خپله د عصمت لمن يې پاکه وساتله نو مونږ د هغې( په ګریوان) کې خپل روح پو
کړ، او هغه او د هغې زوی مو( د خپل قدرت) د لویې نښې په توګه بشری نړۍ ته وړاندې کړل.

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ
فَٱعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾

او بیشکه دا( د اسلام او توحید دین) ستاسو یواځینی حقیقی دین دی( چې د ټولو انبیاو دعوت او کړنلاره ده) او زه
ستاسو رب یم، نو زما عبادت وکړئ.

وَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ ۖ كُلٌّ إِلَيْنَا رَٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾

او( پخوانیو امتونو) خپل دین ټوټه ټوټه کړ( په دین کې ډلې ډلې شول او د خپل منځ شدیدو اختلافاتو ښکار شول) خو
ټول به بالاخره زمونږ حضور ته راوګرځی( او د خپلو ډلبازیو سزا به ووینی).

فَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهِۦ
وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ﴿٩٤﴾

نو چا چې څه نیک کارونه کړی وی، او مؤمن هم وی، هڅې به يې ضايع نشی او يقيناً چې مونږ د هغوی هر کوشش او هڅه ورته( په عملنامه کې) ليکو.

وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾

او د تباه شويو ښارونو( د اوسيدونکو لپاره حرام او نامکنه ده چې( بيرته دنيا ته) راوګرځی.

حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ
يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾

تر هغه چې( د قيامت د لويې نښې په توګه د ذوالقرنين ديوال ونړيږی او) ياجوج ماجوج راخلاص او له هرې لوړې ژورې، راووزی( او په نړی تاړاکونه پيل کړی).

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا
يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٩٧﴾

او کله چې د ( قيامت) حقه وعده رانږدې شی، ناڅاپه به د کافرانو سترګې تيغې او بوتې راوتلې پاتې وی( او ( وايی به:) هلاکت او افسوس دی په مونږ چې دا ورځ مو بيخی هيره کړې وه، بيشکه چې مونږ ظالمان وو.

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ
لَهَا وَارِدُونَ ﴿٩٨﴾

(هغوی ته به وويل شی) بيشکه چې تاسو او خود ساخته خدايان مو، چې د الله تعالی په ځای مو، د هغوی عبادت کاوه، د دوزخ د اور خشاک ياست او په يقين سره به دغه اور ته وغورځيږئ.

لَوْ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٩٩﴾

که دغه خدايان مو په حقه وای، نو دوزخ ته به نه غورځيدل په داسې حال کې چې اوس به( ټول بتان او بت پرستان) په دغه اور کې تلپاتې استوګن وی.

لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾

هغوی به په دوزخ کې دردوونکې چيغې او کوکارې وهی خو هيڅ ( اميد ښونکی آواز) به نه اوری.

إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾

خو هغه کسان به چې وړاندې له وړاندې ورته زمونږ نیکه وعده اورول شوې، له دوزخ نه لیرې وساتل شی.

لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾

( دغه جنتیان) به د دوزخ ( د اور د لمبو) نری غږ هم وا نه وری، بلکه په هغو( الهی نعمتونو کې به) چې د دوی زړونه ورته هیله من وی، تلپاتې ژوند ولری.

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾

( د قیامت د ورځې) لویه ویره او دهشت به، هغوی پریشانه او غمجن نه کړی، او پرښتې به (له هرکلی سره سم) ورته وایی: دا هغه ورځ ده چې ستاسو سره یې وعده شوې وه.

يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٠٤﴾

هغه ورځ چې مونږ ټول سماوی کائنات، د لیکل شویو پاڼو د طومار په شان راونغاړو، لکه څنګه چې مو دغه( مخلوقات) لومړی ځل پیدا کړی وو، بیا به هم د تخلیق دغه عملیه تکرار کړو( او مړی به راژوندی کړو). دا وعده مونږ پخپله ذمه اخستې او خامخا یې سرته رسوو.

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿١٠٥﴾

او بیشکه چې مونږ په زبور کې له نصیحت نه وروسته ولیکل چې( د دی دنیا او جنت) ځمکه به بالاخره زمونږ نیکو بندګانو ته په میراث او ملکیت پاتې کیږی( او دنیوی او اخروی نیکمرغی او کامیابی د دوی په برخه ده).

إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ ﴿١٠٦﴾

په دې مبارک قرآن کې (چې په عظیمو بشارتونواو لارښوونو مشتمل دی او هم په دغو پورتنیو ذکر شویو حقایقو کې) د عبادت کوونکو لپاره( د تلپاتې نیکمرغی او بریالیتوب )لوی پیغام پروت دی.

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٧﴾

او( ای پیغمبره) ته مو په حقیقت کې د ټولو نړیوالو او مخلوقاتو لپاره د رحمت په حیث استولی یې.

قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾

ووایه: ماته یوازې همدا وحې کیږی چې ستاسو رب، د الله تعالی واحد او لاشریک ذات دی، نو آیا تاسو (الهی احکامو او فرامینو ته) غاړه ایښودونکی یاست؟

فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾

نو که یې مخ وګرځاوه، ورته ووایه: ما تاسو ته یوشان خبرتیا او خبرداری درکړ، او په دې نه پوهیږم چې تاسو ته د عذاب وعده نږدې ده که لیرې( دنیوی عذاب مو په برخه دی که اخروی؟)

إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾

بې له شکه، الله تعالی ستاسو په ښکاره او جهر خبرو او پټو مشورو ډیر ښه پوهیږی.

وَإِنْ أَدْرِى لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

او زه نه پوهیږم کیدی شی( د عذاب ځنډیدل) ستاسو لپاره ازمیښت وی او تر کومې ټاکلې نیټې پورې درته د هوسا ژوند مهلت درکړی کیږی.

قَٰلَ رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾

( بالاخره پیغمبر علیه السلام) وویل: ای ربه( زمونږ او مشرکینو تر منځ) د حق فیصله وکړه. او( ای کافرانو!) زمونږ رب هغه مهربان ذات دی چې ستاسو د ټولو خرافاتو او زړه دردوونکو خبرو په مقابل کې زمونږ یوازینی اسره او د استغاثې مرجع ده.

تمت سورة الانبیاء بفضل الله و رحمته.
والحمد لله رب العالمین

====================